# د پښتونخوا د تاریخ حوالې

ادارہ

د پښتو اکېډمي هزارې له خوا یو لوئے سائز پوسټر هغوې په اردو کښې د دې دپاره چاپ کړے او خور کړے دے چې د زیاتو نه زیات خلق ترې استفاده وکړي. مونږ ئې د پښتون په صفحو د هغوي د شکریې سره خپلو لوستونکو ته پېش کوو. په دې پوسټر کښې بايد چې د پښتو هغه شعرونه هم وے، کوم چې په سوونو کالو زاړهٔ دي، مثلاً څهٔ د پاسه څلور سوه کاله په خوا خوشحال بابا وائي چې:

نوره واړه پښتونخوا په ځائے مېشته وه
خو یو زهٔ دې زمانې پکښې منصور کړم

دې ملګرو د دې پوسټر عنوان دا خوښ کړے دے چې "پښتونخوا يو تاريخي رښتيا" شروع ئې دا سې کړې ده چې پښتونخوا د صوبه سرحد ډېر زوړ نوم دے. د آريايانو په مذهبي کتاب رګ وېد کښې کوم چې څوارلس سوه قبل از مسيح کښې ليکلے شوے دے، پکښې د پښتون قوم ذکر موجود دے، چې وروستو دې علاقې ته خلقو پښتونخوا وئيل شروع کړل. دوېم په زوړ ايران کښې زر قبل مسيح کښې ليکلے شوي مذهبي کتاب اوېستا کښې هم د دې علاقې د آباد پښتون قام ذکر موجود دے.

درېم يوناني تاريخ ليکونکی هيروډوټس ۴۲۵ قبل مسيح کښې په خپله سفرنامه کښې د دې قوم او علاقې ذکر کړے دے.

څلورم په ۱۷۷۳ء کښې د هندوستان تاريخ احمد شاه ابدالي بابا په خپلو شعرونو کښې د دې ذکر دا سې کړے دے.

د ډهلي تخت هېرومه چې را ياد کړم
زما د خپلې پښتونخوا د غرو سرونه

پنځم فرانسيسي محقق پروفېسر جم ډار مستېټر چې په ۱۸۸٦ء کښې په دې علاقه او د علاقې د شاعرانو په شاعرۍ کوم کتاب ليکلے دے د هغې نوم دے "د پښتونخوا د شعر هار و بهار" دوي مخکښې ليکي چې پښتونخوا زمونږ د صوبې زوړ او پخوانے خپل او اصلي نوم دے. اوس د دغې زوړ تاريخي نوم بحالي به يو تاريخي انصاف وي او دا نوم د دې صوبې دننه د ټولو قامونو، اولسونو او قبائلو د تاريخ او ثقافت ترجمان کېدے شي. دې صوبې له د انګرېز د ورکړې نوم د بدلولو او د دې صوبې د حقيقي پېژندګلو بحال کولو وخت راغلے دے.

د هزارې د پنځو ضلعو د اديبانو شاعرانو، محققينو، فنکارانو او د ټولو ادبي او ثقافتي تنظيمونو او د لکونو پښتنو د پښتونخوا د بحالۍ مطالبه کوي.

په اخره کښې ئې دا پيغام ورکړے دے چې د خپلې صوبې د تاريخ او ثقافت سره مينه وکړئ او په خپل پښتونخوا نوم فخر وکړئ.

دا حقيقت دے چې کوم خلق د دغسې تاريخي حقيقتونو نه سترګې پټوي او د يوې جمهوري مطالبې منلو نه پس د خپلې رائې د احترام نه هم تښتي د بد قسمتۍ دې حد ته هم سړے حېرانېږي، چې هغوي چې قام او اولس ته ځان پېش کوي نو د خپلې جمهوريت پسندۍ د دعوو اعلانونه هم کوي. دوه ځله چې په صوبائي اسمبلۍ کښې کوم قرارداد ونه پاس شوي دي، سېوا د سليم سېف الله او د هغهٔ د ورور نه هيڅوک په حېثيت پارټۍ دا نهٔ شي وئيلے چې مونږ د پښتونخوا مخالفت کړے دے. بلکې په خپله سليم سېف الله خو څو ځله وئيلي دي چې پښتونستان پکار دے، دا د دې دپاره چې د صوبائي اسمبلۍ دغه قراردادونه غېر موثر کړي يا ئې متنازعه کړي.

مونږ د پښتو اکېډيمۍ هزارې د دغې خيال سره پوره اتفاق کوو چې دا د دې صوبې خپل نوم دے او په تاريخي حوالو ثابت دے دا بحالول به يو تاريخي انصاف وي. البته دغې پوسټر کښې پښتونخوا غلط ليکلے شوے دے پکار ده چې د دې لفظ اخر کښې (ه) نهٔ شي کولے. ځکه چې (خواه) د فارسۍ ټکے دے او معنې ئې غوښتونکے ده او پښتونخوا کښې چې کومه (خوا) ده د دې معنې زړهٔ، غېږ او اړخ ده.